DAILY
اراده

PROPERTY OF ACKU
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

سال تاسيس ۱۳۷۹ هـ . ل

۷۴۹

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

لسم کال - دويمه دوره، ۷٤۹ مه ګڼه، پر له پسې ۱۸۱٦ ګڼه، د ۱۳۸۹ ل ـ د وري ۲۱ مه - د شنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د ربيع الثاني ۲٤ مه د ۲۰۱۰ د اپريل ۱۰ مه

يونسف برای تطبيق برنامه های صحی ۳۹ مليون دالر کمک ميکند

صندوق وجهی ملل متحد برای اطفال (يونسف) به هدف کاهش مرگ و مير مادران و اطفال و تطبيق واکسين و اجرای برنامه های تبليغاتی صحی، ۳۹ مليون دالر امريکايی را با افغانستان کمک می کند. قرار داد اين کمک بتاريخ ۱۹ حمل سالجاری خورشيدی بين داکتر ثريا دليل معين مسلکی وسرپرست وزارت صحت عامه افغانستان و کترين بنگو (Kattrin bongo) نماينده يونسف در افغانستان امضاء گرديد.
داکتر ثريا دليل بعد از امضای قرارداد به خبرنگاران گفت که اين پول در مدت يک سال دربخش های يادشده در سراسر کشور به مصرف خواهد رسيد.
همچنان خانم کترين افزود که وزارت صحت عامۀ افغانستان ، طی پنج سال گذشته در بخش واکسين ، مراقبت های قبل و بعد از ولادت و کاهش مرگ و مير اطفال دستاوردهايی داشته است . اما او خاطر نشان کرد که هنوز هم مشکلات در بخش های ص۳

افغان ولسمشر د ناټو ښه همکار وبلل شو



د ناټو عمومي منشي وايي، د افغانستان ولسمشر حامد کرزی بايد هر وخت هغه کار ونه کړي او هغه خبره ونه کړي، چې د ناټو متحدان يې غواړي. اندرس فوګ راسموسن زياته کړه، چې حامد کرزی د ناټو همکار دی، داسې چې دغه تړون ترې رضايت لري. د شيکاګو په پوهنتون کې تر وينا وروسته راسموسن وويل، په عمومي ډول مونږ له ولسمشر کرزي او د هغه له حکومت سره ښه همکاري لرو، چې داسې همکاري په افغانستان کې زموږ د ستراتيژۍ لپاره مهمه ده.
د ناټو عمومي منشي په خپلو خبرو کې پر دې ټينګار وکړ، چې ناټو په افغانستان کې پر دې لور ګام اخيستی دی، چې دغه هېواد ته ديموکراسي راشي او د دې لپاره پوځي او ملکي هڅې سره غوټه شوې دي او حاصل يې پيل کړی دی.
کله چې د ناټو له عمومي منشي پوښتنه وشوه، چې حامد کرزي په وروستيو کې د افغانستان د ولسمشرۍ په تېرو انتخاباتو کې لوېديځ ملامت کړ او واشنګټن وويل، چې افغان حکومت د اداري فساد د له منځه وړلو لپاره بشپړ اقدامات نه دي کړي، راسموسن وويل، مهمه خبره دا ده، چې له کرزي سره حساب وشي، ولسمشر کرزي سخته ژمنه کړې ده، چې حکومتي سيستم به ښه کوي چې په دې کې له اداري فساد سره مبارزه هم شامله ده. راسموسن بيا وويل، د دغې ژمنې پوښتنه بايد وشي. د افغانستان د تېرو انتخاباتو ۳مخ

باشنده گان فارياب از آب آشاميدنی بهره مند شدند

بيشتر از ۵۰۰۰ تن برای نخستين بار در ولسوالی های مختلف ولايت فارياب از نعمت آب آشاميدنی بهره مند شدند.
جاويد بيدار سخنگوی والی اين ولايت به آژانس خبری پژواک گفت، که امور نصب ۱۵ دستگاه تصفيه آب ،که آب شور را به آب شيرين مبدل ميسازد، در سه ولسوالی (قرغان ، قرمقل و چارباغ) ولايت فارياب تکميل گرديد ، که امروز به بهره برداری سپرده شدند.
موصوف افزود، کار نصب هفت- هفت دستگاه درولسوالی های قرغان، قرمقل و يک دستگاه ديگر در ولسوالی چهار باغ تکميل گرديد.
به گفتۀ موصوف ، د ستگاه های مذکور به هزينه ۳۰۰ هزار دالر امريکايی از مساعدتهای کشور ناروی از طرف مقام ولايت ص۳

د کانګرېس دربيو غړو د خپلو ځواکونو د ايستلو لپاره د مهالوېش غوښتنه وکړه

د امريکا د کانګرېس دربيو غړيو د ولسمشرکرزي د غوسې او پر امريکا د انتقادونو په خاطر د خپل هېواد له ولسمشربارک اوباما څخه وغوښتل، چې له افغانستانه د خپلو ځواکونو د ژر تر ژره ايستلو لپاره مهالوېش جوړ کړي.
د ديموکرات ګوند سناتور روس فرينګولډ، د دغه ګوند د استازو د جرګې غړي جيم مک ګوېرن او د جمهوريت پال ګوند سناتور والتر جونس، ولسمشربارک اوباما ته په يوه ګډ استولي ليک کې ويلي دي، چې د امريکا هلې ځلې بايد د القاعده نړيوالې تروريستي شبکې ته زياتې متمرکزې وي.
دوی ليکلي: «موږ له تاسو څخه غواړو چې له افغانستانه د ځواکونو د ايستلو لپاره مهالوېش او په سيمه کې د تروريزم پرضد د مبارزې لپاره دوامداره ستراتيژي جوړه کړئ.
دوی ويلي چې د ځواکونو د ايستلو مهالوېش کېدای شي انعطاف منونکی وي، خو پکار ده چې متبادل يې ۳مخ

په غورځېدلې چورلکه کې څلور تنه امريکايان وژل شوي دي

د ناټو په مشرۍ نړيوال ځواکونه وايي، چې پرون سهار وختي د زابل ولايت په مرکز کې په راغورځېدلې چورلکه کې درې نظامي او يو ملکي امريکايي وژل شوي او ګڼ شمېر نور امريکايي سرتېري ټپيان شوي دي. له دې مخکې د زابل د والي وياند محمد جان رسوليار ويلي، چې دغه چورلکه پرون سهار په څلورو بجو د کلات ښار لوېديځ ته په شپږ کيلومترۍ کې د نوخېز په سيمه کې غورځېدلې ده. هغه په دې پېښه کې د ناټو د څلورو سرتېرو د وژل کېدو خبره هم کړې وه. په کابل کې د ناټو ځواکونو مطبوعاتي دفتر له خوا د وري پر ۲۰مه په يوه خپره شوې خبرپاڼه کې ويل شوي، چې دا د امريکايي هوايي ځواک اړونده سي وي ۲۲ ۲۲-CV ډوله چورلکه وه. ۳مخ

اداري فساد د افغان حکومت پر وړاندې ستونزه که ننګونه؟

۲

پيام تسليت

قالو انا لله و انا اليه راجعون

جناب محترم انجنير محمد همايون" احمد يار"
با عرض تاثر وتاسف فراوان در گذشت پدر فقيد تان مرحوم غلام سرور " احمديار" را به شما و تمام اعضای محترم و داغديده تان تسليت عرض نموده و روح آن مرحوم را شاد می خواهيم، از پروردگار هر دو جهان، بهشت برين را جايگاه ابدی شان استدعا می نماييم.
از خداوند متعال برای شما و ساير بازمانده گان آن مرحوم طول عمر و صبر جميل تمنا می نماييم.
با ابراز عميق ترين تاثرات، ما را در غم و اندوه خود شريک بدانيد.
ازطرف شرکت ساختمانی آباد راهان پارس
منهدس قباد چوبدار

پيام تسليت

قالو انا لله و انا اليه راجعون

جناب محترم انجنير محمد همايون" احمد يار"
با عرض تاثر وتاسف فراوان در گذشت پدر فقيد تان مرحوم غلام سرور " احمديار" را به شما و تمام اعضای محترم و داغديده تان تسليت عرض نموده و روح آن مرحوم را شاد می خواهيم، از پروردگار هر دو جهان، بهشت برين را جايگاه ابدی شان استدعا می نماييم.
از خداوند متعال برای شما و ساير بازمانده گان آن مرحوم طول عمر و صبر جميل تمنا می نماييم.
با ابراز عميق ترين تاثرات، ما را در غم و اندوه خود شريک بدانيد.
از طرف شرکت ساختمانی سپهر بستر
منهدس اسد عبدی پور

اداري فساد د افغان حکومت پر وړاندې ستونزه که ننګونه؟

اورنګ مختار

اداري فساد په افغانستان کې نه یوازې دا، چې یوه لویه ستونزه ده، بلکې د ولسمشر کرزي د اداري پر وړاندې یوه ستره ننګونه هم ده، چې نه یوازې ټول افغانان یې په ستونزو کې اچولي، بلکې فساد د نړیوالې ټولنې په تېره بیا د متحدو ایالتونو لپاره یو لوی سرخوږی جوړ شوی، ځکه نو نړیوالې ټولنې، چې د امریکا متحد ایالتونه یې په سرکې ځای لري، د دې ستونزې د له منځه وړلوجدي غوښتنه کړې، همدارنګه د وري پر لسمه نېټه ملګرو ملتونو هم په کابل کې، په افغانستان کې د فقر او بېوزلۍ دوام پر دوام اند ېښنه ښودلې او د اداري فساد ستونزه یې د بېوزلۍ مهم او نا امنیو سترلامل وګاڼه. د دغه سازمان د یوه رپوټ له مخې چې په دې وروستیو کې خپور شوی، په هرو دریو افغانانو کې دوه له بېوزلۍ نه اغېزمن ښودل دي.

ملګرو ملتونو په دې وروستیو کې د ۱۴ ولایتونو له خلکو معلومات را غونډ کړي او جوته کړې یې ده، چې د افغانستان په حکومت کې د اداري فساد له کبله خلک خپه دي، چې داخپګان د دولت او عام ولس ترمنځ د واټن سبب شوی، ځکه چې افغانستان ته په تېرو نهو کلونو کې د شاوخوا ۳۵ میلیارده ډالرو له راتلو سره سره بیاهم تر ۳۲ په سلو کې کسان په مطلقې بېوزلۍ او ۳۷ په سلو کې نور له هغې نه په لږه بېوزلۍ کې ژوند کوي.

د همدې او دې ته ورته یو شمېر ستونزو د له منځه وړلو په موخه د کب پر اتمه نېټه د امریکا ولسمشر بارك اوباما کابل ته راغی او نېغ په نېغه یې له خپل افغان سیال ولسمشر حامد کرزي سره د فساد د له منځه وړلو، امنیت ښه کولو... په اړه خبرې وکړې او داسې ښکاري، چې د بارك اوباما دا سفر ولسمشر کرزي ته د ورکړل شوي وخت، چې له مخې یې باید په شپږو میاشتو کې په افغانستان کې د اداري فساد ټغر ټول شوی وای، یو بل زنګ و، ځکه د ولسمشر د دفتر د ویاند وحید عمر وروستۍ څرګندونې ښیي، چې د اداري فساد او یوشمېر نورو مسایلو په اړه د اوباما او د هغه د افغان سیال حامد کرزي تر منځ ډېرې خبرې شوي، چې د یوشمېر خبرو پر سره د دواړو ولسمشرانو د نظر اختلاف هم رامنځته شوی.

له ولسمشر کرزي سره بارك اوباما د ګرموخبرو په لړکې اصلي موضوع په افغانستان کې د اداري فساد پر ستونزې را چورلېده کوم، چې ولسمشر کرزي او نړیوالې ټولنې دواړو یوه جدي ستونزه بللې. اوباما جوته کړه، چې فساد په افغانستان کې یوه لویه ستونزه ده او د ولسمشر کرزي حکومت یو لوی خنډ دی، چې د ولس او هم نړیوالې ټولنې د خپګان او ناخوښۍ سبب شوی دی او آن داچې څه موده وړاندې پخپله حامد کرزي دا ستونزه د ده د حکومت پر وړاندې یوه جدي ستونزه بللې وه اونوموړي یې د له منځه وړلو ژمنه کړې وه، ولسمشر کرزي ویلي وو، چې فساد به له منځه وړي اوس اوپه هېواد کې به ښه حکومتداري رامنځته کوي. اوس چې د ولسمشر کرزي له ژمنې څخه څه دپاسه څلورمیاشتې تېرې شوي او د کړې ژمنې شاوخوا ۴۰ ورځې وخت پاتې دي، ولسمشر کرزی ډېر لږ وخت لري، چې دا ستونزه حل کړي، ځکه جمهور رییس اوباما له حامد کرزي سره په کتنه کې په زغرده وویل، چې د اداري فساد پر وړاندې مبارزه باید له پوځي هڅو سره همغږې شي، د بارك اوباما له خبرو داسې جوته شوه، ترڅو چې په افغانستان کې اداري فساد ورك نه شي، پوځي هڅې نتیجه نه ورکوي او د افغان ولس باور نشي تر لاسه کېدلای.

کارپوهان وايي د اداري فساد د له منځه وړلو یوه غوره لار په هېواد کې د ښې حکومت دارۍ رامنځته کول او ټولنیز عدالت دی، ترڅو د ښې حکومتدارۍ له امله د ټولو ولسونو او قومونو ملاتړ تر لاسه شي او د هېواد په ټولو سیمو کې د بیا رغاونې کارونه پیل شي اودازادې سیالۍ له لارې کار اهل کار ته وسپارل شي، په همدې موخه د سیمه ییزوارګانونو خپلواکې اداري هم څو ورځې وړاندې اعلان وکړ، چې د وزیرانو شورا د پریکړې له مخې او د ښې حکومت دارۍ په موخه به د محلي ادارو واکونه زیات کړي، څوله دې لارې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د بیا رغاونې کارونه پیل شي، د فساد جرړې وایستل شي او په ټول هېواد کې د سیمه ییزعدالت په تامین کولو سره ښې حکومتدارۍ ته لار برابره شي.

که له یوې خوا اوباما د خپل سفر په ترخ کې د ښې حکومتدارۍ، د قانون د حاکمیت او د اداري فساد پر وړاندې په مبارزه کې د پرمختګ غوښتنه مطرح کړه، له بلې خوا حامد کرزي بیا په خپلو خبرو کې وویل، چې د باثباته او سوله ییز افغانستان لپاره به یې له امریکا سره ملګرتوب دوام وکړي او په هېواد کې به فساد له منځه یوسي.

خوامریکایي چارواکي وايي، اداري فساد اوحکومتداري هغه مسایل دي، چې د امریکا جمهور رییس بارک اوباما یې په تشویش کې اچولی او په دې اړه یې کابل ته پخپل سفر کې په مستقیم ډول له حامد کرزي سره خبرې کړي او نژدې څلورنیمې میاشتې وړاندې ښاغلي حامد کرزي هم د ټولټاکنو تر ګټلو وروسته د لوړې د مراسمو د پر ځای کولو پر مهال د یو شمېر نورو ژمنو تر څنګ له ولس او نړیوالو سره د اداري فساد او رشوت د له منځه وړلو ژمنه وکړه او ویې ویل، چې په هېواد کې به د یو غښتلي نظام د راوستلو په موخه د فساد جرړې وباسي او د ښې حکومتدارۍ د ټینګولو په خاطر به مجرمین او په فساد ککړ افراد محکمه کوي... اوس، چې د څه دپاسه څلور نیمو میاشتو تېرېدو سره سره په هېواد کې د اداري فساد دله منځه وړلو لپاره کوم اساسي او بنسټیز کار نه دی شوی، نړیواله ټولنه او افغان ولس په دې په یوه خوله دي، چې د ولسمشر حامد کرزي په حکومت کې د فساد او رشوت له کبله د دې هېواد امنیت خراب شوی او له امله یې نړیواله ټولنه او افغان ولس دواړه په سختو ستونزو کې بند پاتې شوي دي.

وروستیو سروې ګانو جوته کړې، چې یوازې پر ۲۰۰۹ میلادي کال ۵۴۰ امریکایي سرتیري او څه دپاسه درې زره بېګناه افغانان او په سلګونو د ملي اردو او ملي پولیسو منصوبین وژل شوي دي، د همدې ستونزو له کبله امریکا له افغان حکومته غواړي، چې فساد ورك کړي او آن نړیوالې ټولنې او د امریکا یو شمېر لوړ پوړو چارواکو لا څو میاشتې وړاندې ویلي وو، چې په یو داسې هېواد کې، چې حکومت یې په فساد کې ډوب وي، د دوی د عسکرو ضایع کول ګټه نه لري او دا په دې مانا، چې د دا ډول په فساد ککړ حکومت لپاره د عسکرو لېږل تېروتنه وبلل شوه، یوشمېر هېوادونو له همدې امله د خپلو عسکرو د ایستلو پریکړې وکړې. همدې ستونزې ته په کتو سره د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکې اداري اعلان کړه، چې د ځایي ادارو- واکونه او صلاحیتونه باید زیات شي او ویې ویل، چې د ولایتونو والیان صلاحیت لري، چې پر فساد ککړ او بې کفایته کارمندان له دندو لرې کړي او پر ځای یې د ازادې سیالۍ له لارې په کارپوه او مسلکي افراد وګومارل شي. که څه هم د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکې اداري پالیسي د وزیرانو د شورا له خوا د ښې حکومتدارۍ په هدف تصویب شوې ده، خو که په دې اړه دولت جدي او سمه پاملرنه ونه کړي او د ښایسته سالارۍ له لارې د ولایتونو والیان او ولسوالان ونه ټاکل شي، دغه پالیسي به سربېره پردې، چې مرکزي حکومت کمزوری کړي، بلکې په بېلابېلو سیمو کې به اداري فساد او اختلاس ته لمن ووهل شي، چې له کبله یې ولس له مرکزي او سیمه ییزوحکومتونو واټن نیسي.

دا خبره هغه وخت ښه جوته شوه، چې کله له فساد سره د مبارزې د ستراتیژۍ د څارنې د عالي اداري رییس یاسین عثماني څه موده وړاندې ولسي جرګې ته د خپل کاري رپوټ د وړاندې کولو پرمهال وویل، چې دا اداره کافي بودیجه اواجرایي اونظارتي واك نه لري او د یوې فلج اداري په توګه فعالیت کوي. دې جرګې له افغان دولت او ولسي جرګې څخه په کلکه غوښتل، چې د دې اداري صلاحیت دې زیات کړي اوپه مقابل کې د ولسي جرګې استازو د په فساد ککړولوړپوړیو حکومتي چارواکو لېست د مطبوعاتو له لارې د نشرغوښتنه وکړه او ویې ویل، که دا اداره د زورواکو د نومونو د خپرېدو واك نه لري، نو استعفادې... له فساد سره د مبارزې د اداري مشر لا څو ورځې وړاندې ویلي وو، چې د کم صلاحیت له کبله د یوشمېر لوړ پوړو چارواکونوملږ نه شي خپرولای اوویې ویل، چې لاهم په اداراتو کې د فساد مخنیوی نه دی شوی او له منځه وړل یې ګرانه خبره ده، ځکه د ده په وینا همدا اوس هم یو شمېر لوړ پوړي چارواکي د شخصي اړیکو او روابطو له مخې خپل او خپلوان په لوړو څوکیو مقرروي او په یوه اداره کې دولتي مامورین څوډوله معاشونه اخلي.

د یادې شوې اداري مشر ښاغلي عثماني دا هم وویل، چې دوی څه دپاسه سلو تنو په فساد کې ښکېلو چارواکو، چې یوشمېر لوړ پوړي چارواکي هم په کې شامل دي، دوسیې څېړلې او دوی د افغانستان د اساسي قانون د حکم له مخې د دا ډول کسانو لېستونه د مطبوعاتو په اختیار کې نشي ورکولای، ځکه چې د دې قوانینو له مخې دوی ترهغې د یو متهم نوم نه شي خپرولای، چې د محکمې له لوري یو څوك په جرم نه وي محکوم شوی... له فساد سره د مبارزې د ستراتیژۍ د تطبیق کېدو د څارنې د عالي اداري رییس همدارنګه وویل، چې دوی بشپړه بودیجه اوتحقیقاتي او کشفي پر سونل نه لري، چې له امله یې په فساد کې ککړ افراد زړورشوي او د قضایي اداروکمزورۍ د دوی زړورتیا نوره هم زیاته کړې ده.

زموږ په اند ولسمشر کرزي ۳مخ

د لوی او ښبونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

که زورواکي همداسې دوام ولري...!

د کابل ښاروالۍ چارواکي وايي، چې په کابل ښار کې اویا سلنه لوړپوړیزې ودانۍ زورواکو د ښاروالۍ د پلان خلاف په خپل سر جوړې کړې دي. دا هغه خبره ده، چې پخپله ښاروالۍ پرې اعتراف وکړ او بلاخره دایې ومنله، چې د ښار نژدې اویا سلنه لوړې ودانۍ زورواکو په خپل سر او د ښاروالۍ د پلان خلاف جوړې کړې دي. دا چې په دې څو وروستیو کلونو کې د لوړپوړیز ودانیو د خپلسرو جوړونو په برخه کې سلنه دومره پورته ختلې، نو خدای خبر چې وروسته به دا سلنه څومره پورته خېژي.

که چېرې دا موضوع له هراړخیزه پلوه وڅېړل شي، نو که له یوې خوا ټولنیزې اسانتیاوې او د ژوندانه سهولتونه منځته راوړي، له بلې خوا ګڼې ستونزې او ګواښونه هم منځته راوړلای شي، ځکه ځینې لوړ پوړیزې ودانۍ کېدای شي، د ښار ځینو مهمو دولتي ودانیو ته له امنیتي پلوه هم د ستر ګواښ پېښ کړي او د ښار ښکلا ته هم. کابل ښار د مساحت له پلوه هم وړوکی ښار دی او په دې توګه ډېرې دولتي ودانۍ هم سره ډېرې نژدې پرتې دي، نو په دې توګه هم که چېرې همدغو دولتي مهمو ودانیو ته نژدې خپلسرې او د پلان خلاف لوړپوړیزې ودانۍ جوړې شي، نو دا پخپله همدې دولتي ودانیو ته کېدای شي یو درد سر پیداکړي. همداشان د داسې خپلسرو ودانیو جوړول د رغونې او د ښار د ښکلا له پلوه هم ډېر ناوړې اغېزې شیندلای شي، ځکه د ښار هره ودانۍ باید د یوه پلان پر اساس جوړه شي، ګټې او زیانونه یې دواړه په پام کې ونیول شي، خو له بده مرغه حالت داسې شوی، چې هر څه د توقع خلاف روان دي، زورواکي په خپل سر لوړپوړیزې ودانۍ جوړوي او داشان دولتي ځمکې لاندې کوي، نو دلته دا پوښتنه پیدا کېږي، چې افغان دولت ولې دومره کمزوری دی او ولې دومره له پښو لوېدلی دی، چې د ښار په زړه کې هم عمل نه شي کولای او د ښار په زړه کې یې هم واك نه چلېږي او د زورواکانو مخه نه شي نیولای؟

که چېرې واقعیت همداسې وي، نو دولت به څنګه وکولای شي، چې خلکو او ولس ته د خدمت جوګه وګرځي، څنګه به ډیموکراتیکه ښه ولري، څنګه به ډیمکراتیك اصول او کړنلارې پلې کړي او په دې توګه خپل مشروعیت ته سمه ښه ورکړي، خو که کیسه بیا بل ډول وي او پخپله دولتي چارواکي په دې موضوع او یا دې لومه کې ښکېل وي، نو بیا دا خبره پر ځای ده، چې دولت باید پر دې موضوع سر ونه ګروي او هېڅ ته هم څه ونه وايي، هر سړی پرېږدي چې په خپل سر هر څه چې کوي، ویې کړي او بلاخره ښار یوه بدرنګه، خپلسرې او ځنګلي بڼه غوره کړي او په دې توګه پر دې خاوره او ولس د دیموکراسۍ پر ځای د زور او زورواکۍ نظام واکمن شي او ولسواکۍ ته نه وویل شي.

د عزیزي بانک د سوداګریز مرکز د جوړولو کار له اجازې پرته روان دی

د کابل ښاروالي وايي، چې عزیزي بانک په کابل ښار کې د عزیزي سوداګریز مرکز د لوړپوړیزې ودانۍ د جوړېدو کار د ښاروالۍ له اجازې پرته پیل کړی دی.

د یاد شوي سوداګریز مرکز ودانۍ، چې د عزیزي بانک په پانګونه د اونیکس د خصوصي کورني شرکت له خوا یې د جوړولو چارې پر مخ ځي، د کابل ښار د دویمې ناحیې اړوند د ملک اصغر په څلور لارې کې موقعیت لري.

د کابل ښاروالۍ فني او مسلکي مرستیال انجنیر عبدالاحد واحد وویل، چې د ښار د پراختیایي پلان له مخې، یاد شوی ځای د عامه کتابتون د پراختیا لپاره په پام کې نیول شوی او دغه تصمیم په دې وروستیو کې د وزیرانو شورا له خوا هم تایید شوی دی.

یاده ودانۍ، له عامه کتابتون سره جوخت جوړېږي.

د واحد په وینا، یاد شوی ځای د لوړپوړیز سوداګریز مرکز د جوړولو لپاره د امنیتي دلایلو له امله هم مناسب نه دی، ځکه چې جمهوري ریاست او د پوهنې، بهرنیو چارو او اقتصاد وزارتونه یې شاوخوا موقعیت لري.

د سرچینې د څرګندونو له مخې، په دې سیمه کې د سوداګریز مرکز لپاره د موټرو د تمځای امکانات هم نشته.

واحد وویل: «اوس چې د اونیکس شرکت یا عزیزي بانک دغه کار کوي، نو هغه له قانون څخه سرغړونه ده او موږ هم اجرائیه څواک نه لرو چې مخه یې ونیسو.»

خو هغه زیاته کړه، چې د دې ودانۍ د جوړېدو د مخنیوي لپاره ښاروالۍ ۳مخ

اداري فساد د افغان...

یوازې یو چانس لري او که ولسمشر کرزی رښتیا هم د اداري فساد ختمول غواړي، نو لومړی دې له فساد سره د مبارزې د ستراتیژۍ د تطبیق د څارنې د اداري واکونه او صلاحیتونه زیات کړي او همداراز د فساد د مخنیوي په موخه دولت باید تر هرڅه وړاندې خپل قضایي سیستم پیاوړی کړي، په لومړي قدم کې دې د لوړ پوړو چارواکو لپاره ځانګړې محکمه فعاله او غښتلې شي او هغه زورواکان دې د محاکمې میز ته کش کړای شي، چې دملت پر ملي شتمنیو یې خېټه اچولې، په فساد کې ډوب دي له دې پرته به موږ په راز راز ستونزو کې بند پاتې وو. هم به نړیوالې ټولنې ته پاتې راغلي یو او هم به په هېواد کې ډول ډول ستونزې موجودې وي، ځکه افغاني ټولنه یوه سوچه اسلامي ټولنه ده، په دې ټولنه کې د اسلامي قوانینو له نافذېدو پرته امنیت نه شي راتلای او فساد به همداسې دوام ولري، نو ښه به داوي، چې د فساد د مخنیوي لپاره د مشارکت او اندیوالۍ پرځای د قضایي سیستم پیاوړتیا ته تر هرڅه ډېره پاملرنه وشي.

اوس چې د سیمه ییزو ارګانونو د اداري واک یوڅه زیات شوی، د دې اداري د صلاحیتونو زیاتېدل به ډېرې مثبتې پایلې ولري، خو په دې شرط، چې دا پروسه د یوې شفافې تګلارې له مخې پرمخ یوړل شي، په دې کار سره به د ولس او دولت ترمنځ باور پیدا شي او د مرکزي دولت او ملت ترمنځ پرتې ټولې بد ګمانۍ به جبران شي.

د دې اداري د صلاحیت زیاتېدل د مرکزي حکومت ځواکمنتیا ده، ځکه چې سیمه ییزې اداري د مرکزي حکومت اړوند اداري دي او د مرکزي دولت د دې څانګو غښتلي کول، د مرکز غښتلتیا ده، خو په دې شرط چې په کارپوه او دولت ته وفاداره والیان او ولسوالان پر دندو وګومارل شي او د یوې شفافې پروسې له مخې دا کار تر سره شي.

د یادې شوې اداري په نوې پالیسۍ کې مهم او د ډېرارزښت وړ ټکی د سیمه ییزو شوراګانو جوړول دي، چې د ځایي ادارو کارونه به څارې او له چارواکو سره د همغږۍ په صورت کې به کارونه پر مخ بیایي او بل داچې یاده شوې پالیسي د هېواد اساسي قانون د ۱۳۷ مادې له مخې تصویب شوې ده، ترڅو د خلکو او حکومت ترمنځ ښه اړیکي رامنځته کړي.

داچې د ولسمشر کرزي د کړې ژمنې ډېر کم وخت پاتې دی، د ځایي ارګانونو د پالیسۍ له عملي کېدو پرته به موږ نړیوالې ټولنې ته پاتې راغلي یو او فساد به همداسې دوامداره وي.

په غور څېدلي چورلکه کې...

په خبرپاڼه کې زیاته شوې، چې په دې پېښه کې یو ملکي امریکایي او درې سرتېري وژل شوي او ګڼ شمېر نور سرتېري ټپیان شوي، چې نژدې نظامي روغتون ته د درملنې په موخه وړل شوي دي. خو سرچینې د پېښې د څرنګوالي او د ټپیانو د روغتیایي حالت په اړه څه نه دي ویلي او زیاته کړې یې ده، چې په دې اړه پلټنې پیل شوې دي. د ناټو په خبرپاڼه کې راغلي دي، چې دا ډول چورلکې ډېر قوي ماشینونه لري او له ټاکلي معیار څخه زیات اوږد مزل کولای شي.

په خبرپاڼه کې زیاته شوې، چې په دې چورلکه کې امریکایي سرتېري انتقالېدل، چې د پېښې ښکار شول.

د محمدنبي په نامه د سیمې یوه اوسېدونکي پژواك خبري اژانس ته ویلي، چې چورلکه د ناټو ځواکونو د عملیاتو پر مهال غورځېدلې ده. دی وایي، چې د سهار په څلورو بجو دوی د سپکو وسلو ډزې هم اورېدلې، نه پوهېږي، چې دغه چورلکه به د مخالفینو په ډزو غورځېدلې وي او که تخنیکي ستونزه یې لرله.

رییس جمهور متواری...

رژیم باقی یف منجر شده ودولت انتقالی متشکل از رهبران احزاب مخالف، که کوتاه مدتی پس از انتشار خبر فرار رییس جمهور زمام امور را در دست گرفته بود، با تشکیل گروه هایی از افراد داوطلب در محله های مختلف، برای خاتمه دادن به نا امنی وارد عمل شد.منابع وزارت داخله دولت انتقالی گفته اند که در جریان پریشب، گروه هایی از افراد مسلح به منظور ارعاب شهروندان و یا غارت اموال، با موترهای بدون نمره پلیت در پایتخت به حرکت در آمدند و به تیراندازی بدون هدف مبادرت ورزیدند.

با اینهمه، به گفته این منابع، در این تیراندازی ها کسی کشته نشد و با آماده شدن نیروهای پولیس برای گشت زنی در خیابان ها، انتظار می رود اوضاع به زودی به حالت عادی باز گردد.

در همانحال، دولت های امریکا و روسیه به منظور روشن ساختن روابط آینده خود با قرغیزستان، مذاکراتی را با مقام های دولت انتقالی آغاز کرده اند هر چند هیچ کدام از این دو کشور هنوز دولت انتقالی را به رسمیت نشناخته است.

هر دو کشورامریکا و روسیه دارای پایگاه های نظامی در قرغیزستان هستند و ایالات متحده از پایگاه هوایی خود در قرغیزستان برای پشتیبانی تدارکاتی از عملیات نظامی در افغانستان استفاده می کند.

گفته می شود که روزا اتونبایوا، رهبر حزب سوسیال دموکرات و رییس دولت انتقالی قرغیزستان، دیروز هیاتی را به ریاست معاون اول صدراعظم برای مذاکره به روسیه اعزام داشته اما هنوز گزارشی از ملاقات مقام های بلند پایه دولت با امریکاییان مخابره نشده است.

به نقل از برخی رهبران مخالف دولت گزارش شده است که روسیه در نظر دارد با برقراری روابط نزدیک از دولت انتقالی، قرغیزستان را وادار کند از تجدید قرارداد اجاره پایگاه هوایی مناس با امریکا خود داری ورزد.

در عین حال، این نظر مطرح شده که دولت قرغیزستان به عواید حاصله از اجاره پایگاه هوایی به ایالات متحده نیاز دارد و بعید است تغییر رژیم در قرغیزستان باعث تعطیلی این پایگاه شود هر چند انجام مذاکراتی بر سر شرایط قرارداد بین دو طرف را نمی توان منتفی دانست.

د کانګرس درېیو غړو د...

تضمین شوی وي.

د کانګرس دغو غړیو د ولسمشرکرزي او د هغه د لوېدیځو ملاتړ کوونکو ترمنځ وروستۍ لفظي شخړې ته په اشارې خبرداری ورکړی، چې د امریکا اوسنۍ ستراتیژي به دا هېواد په افغانستان کې له یوه بې اعتماده شریک سره وتړي، چې وروستۍ پېښې یې یوه بېلګه او ثبوت دی.

د کانګرس دې درېیو غړیو همداراز اوباما ته ویلي: په داسې حال کې چې موږ له ولسمشرکرزي څخه د احتساب په باب ستاسو د هلو ځلو ستاینه کوو، د کرزي وروستۍ غوسه د اداري فساد او امنیت په برخو کې، چې زموږ اوسنۍ ستراتیژي د هغو پراساس ولاړه ده، یوازې د کرزي د نه لېوالتیا په باب پوښتنې پیدا کوي.

دوی همداراز ویلي: موږ ته پکار ده، دا ومنو چې د افغانستان په حکومت کې فساد او د مشروعیت د تاند وېښپاڼې د ریوټ پر اساس، دوی دا هم ویلي، چې له افغانستان څخه د ځواکونو د ایستلو لپاره د مهالوېش ټاکنه به دا مانا نه لري، چې موږ په افغانستان او سیمه کې خپل حضور او ونډه پای ته رسوو، بلکې امریکا ته پکار ده چې له افغانستان سره د نماینده او وړ حکومت په برخه کې مرستو ته دوام ورکړي.

یونسف برای تطبیق...

یادشده در افغانستان وجود دارد و باید کار های بیشتری در زمینه صورت گیرد .به اساس معلومات وزارت صحت عامه ، طی هشت سال گذشته پوشش خدمات واکسین از ۱۳ به ۳۷ در صد افزایش یافته است .

منبع می افزاید که حدود هشت سال قبل در افغانستان در هر یکصدهزار طفل یک هزار تن از اثر امراض قابل وقایه جان میدادند اما حال این رقم مرگ و میر در هر یکصد هزار طفل به ۱۹۰ تن کاهش یافته است.

همچنان مسوولان وزارت صحت عامه می گویند که در رقم مرگ و میر مادران نیز کاهش به وجود آمده اما سروی جدید که در این راستا ادامه دارد ، هنوز تکمیل نشده است .

خانم کترین خاطرنشان ساخت که یونسف کمک هایش را دربخش های یادشده با افغانستان تا سال ۲۰۱۳میلادی ادامه خواهد داد.

باشنده گان فاریاب از...

نصب شدند . بیدار گفت ، آب این ولسوالیها در نتیجه موجودیت بعضی مواد معدنی شور میباشد، که نوشیدن آن مشکلات صحی را درقبال داشت .

به گفته شاه ولی یکتن از باشنده گان این ولسوالی، آب این ولسوالی آنقدر شور است که دروقت نوشیدن احساس میشود که طعم تلخ دارد .

شاه ولی ضمن قدردانی از دولت افزود ، که درولسوالی آنها یک دستگاه تبدیل کننده آب شور به آب شیرین نصب گردیده ، که به ولسوالی مذکور کافی نمیباشد.

اما سخنگوی والی گفت ، آنها درنظر دارند تا درجریان سال جاری در ولسوالی مذکور چهار دستگاه دیگر تبدیل آب شور به آب شیرین را نصب نمایند.

به اساس یک خبر دیگر ، سنگ تهداب ساختمان یک مرکز فرهنگی به منظور جلسات اعضای شوراهای انکشافی توسط عبدالحق شفق والی فاریاب ،در ولسوالی خان چهار باغ گذاشته شد. سخنگوی والی گفت که ساختمان مذکوردرمساحت ۳۰۰ مترمربع زمین ، به هزینه ۱۶۵هزار دالرامریکایې ازسوی برنامه دایاگ درمدت شش ماه تکمیل و به بهره برداری سپرده خواهد شد .

موصوف افزود، ساختمان مذکور دریک طبقه که شامل یک سالون بزرگ جلسات ودو اتاق دفتری میباشد، اعمار می شود.

افغان ولسمشر د ناټو ښه...

په برخه کې بیا د ناټو عمومي منشي څرګنده کړه، چې په دې کې شک نه شته چې ستونزې په کې وې او د لوېدیځ له معیارونو سره سم نه وو.

ده زیاته کړه چې موږ دا خوښوو، چې په افغانستان کې دیموکراتیک سیستم وده وکړي او موږ د خلکو د خپلواکو نظریاتو او بحثونو ملاتړ کوو او دا د ژوند حقیقت دی.

راسموسن بېرته د افغانستان د ولسمشر په اړه وویل، چې هغه یو سیاسي شخصیت دی، چې موږ په افغانستان کې ډېر سروکار ورسره لرو او باید همکاري ورسره وکړو. د ازادي رادیو د راپور له مخې، د ناټو عمومي منشي د قرغزستان مسئلې ته هم اشاره وکړه او ویې ویل، چې دا وار له مخه ده، چې اوس وواېو چې په دغه هېواد کې پاڅون به په افغانستان کې د ناټو پر هڅو اغېز وکړي.

د عزیزي بانک د سوداګریز...

د تېر کال د وږي په میاشت کې د دولت ریاست او د تېر کال د سلواغې په میاشت کې د کورنیو چارو وزارت ته مکتوبونه استولي دي. د کابل د امنیه قوماندانۍ امنیتي مرستیال مل پاسوال خلیل الله دستیار د وري پر ۱۰ مه وویل، چې د ښاروالۍ مکتوب دوی ته رسېدلی او د یادې ودانۍ د جوړېدو چارې یې بندې کړې دي. دا په داسې حال کې ده، چې پر یاده نېټه او د وري پر ۱۹ مه، هم د دې ودانۍ د جوړېدو کار د ودانۍ د تهکوي تر بشپړېدو وروسته په لومړي پوړ کې روان و.

په کابل کې د عزیزي بانک له دولتي ادارو سره د اړیکو مسوول احمدضیاء شهراني پژواک خبري اژانس ته وویل، چې دوی د یادې شوې ۱۵ پوړیزې ودانۍ د کار د پیل لپاره د تېر کال د زمري د میاشتې په ۱۹ مه، د ولسمشر (۳۳۰۳) ګڼه حکم ترلاسه کړی دی.

خو کله چې له شهراني څخه د یاد شوي حکم کاپي وغوښتل شوه، هغه وویل چې دغه حکم له کابل ښاروالۍ سره دی، دی یې کاپي نه لري او له ښاروالۍ څخه یې هم نه شي ترلاسه کولای. د کابل ښاروالۍ یوې اړوندې سرچینې د نامه له اخیستو پرته وویل، چې په دې اړه تر هغه چې د چارو د اداري له خوا ورته امر ونه شي، معلومات نه شي ورکولای.

عملیات قندهار و نگرانی از بیجا شدن هزاران تن

در حالی که عملیات ناتو در ولایت قندهار عنقریب آغاز می شود و آماده گی ها برای انجام این کار در حال انجام است، نگرانی هایی از بیجا شدن هزاران تن از ساکنان این ولایت وجود دارد. ولایت قندهار حدود یک میلیون جمعیت دارد و قبلاً براثر خشکسالی و جنگ آسیب دیده است، سازمان های خیریه براین نظر اند که با حملهٔ نیروهای ناتو به قندهار، روزگارخطرناک و سختی آغازمی یابد. زیرا هزاران خانواده بیجا خواهند شد.

میراحمد یکی از باشنده گان شهر قندهار تصمیم دارد، این شهر را ترک بگوید. او به نمایندهٔ ایرین گفته است: "من می خواهم، خانواده ام را ازجنگ محفوظ نگهدارم. برایم مهم نیست که زنده گی در پاکستان چه قدر مشکل است".

به گزارش روزنامهٔ اراده، توریالی ویسا، والی قندهار می گوید: برای ۵۰۰۰ خانواده مواد کمکی خوارکه و غیر خوراکه تهیه شده است، اما کمپی در کارنیست. ویسا می افزاید: "حکومت تصمیم گرفته است که برای بیجا شده گان داخلی، کمپی برپا نشود؛ زیرا مردم ازهر جا به آنجا رجوع می کنند و بعد ازعملیات نظامی بستن این کمپ، آسان نخواهد بود".

مقامات حکومتی می گویند که بیجا شدن داخلی بر اثرجنگ، یک پدیدهٔ موقتی است و بیجا شده گا ن می توانند، توسط دوستان و خویشان شان در شهرقندهار و دیگر جاها پذیرفته شوند.

معافیت از مجازات:

از جملهٔ ۱۷ ولسوالی قندهار، حکومت رسماً در ۴ ولسوالی آن یا کنترولی ندارد و یا کنترولش بسیارضعیف است. مردم می گویند، طالبان در هر جا حضور دارند و اقتدار واقعی در دست آنهاست.

طالبان یک استراتژی کشتن وترساندن را دنبال می کنند که این امر مانع همکاری مردم با حکومت می شود. چنانکه به تاریخ ۲۴ فبروری آنها عبدالمجید بابی، رییس امور فرهنگی قندهار را کشتند.

رازقه نظامی که یک خانم معلم است، می گوید: "طالبان شوهر مرا که افسر پو لیس بود، کشتند و مرا به دلیل شغلم تهدید می کنند".

اهداف حملهٔ ناتو برقندهار:

پاول سکات، سخنگوی ناتو درجنوب افغانستان، به «ایرین» در مورد اهداف حملهٔ ناتو به قندهار گفته است: "هدف عمدهٔ این حمله تامین اقتدار دولت افغانستان و توسعهٔ حکومتداری، انکشاف، ثبات وآزادی رفت و آمد برای افغان هایی است که در درون و یا اطراف شهر قندهار زنده گی می کنند".

او گفته است: عملیات قندهار از عملیاتی که در مارجه صورت گرفت، فرق دارد و در آن « روز آغاز» حمله وجود ندارد.

همچنان گفته شده است که ممانعت از فساد اداری و رشوه خواری و حکومتداری بد در این لشکرکشی نقش مهم دارد. چنانکه مایک مولن لوی درستیز ایالات متحدهٔ امریکا به تاریخ ۳۰ مارچ گفته است: "ما درقندهار موفق شده نمی توانیم، هرگاه نتوانیم، فساد اداری گسترده در آنجا را از بین ببریم".

خرابی وضع امنیتی:

دفترهماهنگی امور بشری ملل متحد در افغانستان گفته است که منشی عمومی سازمان ملل متحد طرحی را دایر بر اعلام " مرحلهٔ چهارم" امنیتی در جنوب افغانستان تایید کرده است. بر اساس این مرحله بندی، شماری از کارمندان بین المللی در قندهار و ترینکوت در درون خانه های شان می مانند. کارمندان بین المللی در هلمند، زابل و نیمروز حضور نمی داشته باشند.

این تصمیم ملل متحد توسط بسیاری سازمان های غیردولتی (ان. جی. او) مورد انتقاد قرار گرفته است. شاخهٔ محلی "دیده بان حقوق بشر" ضمن انتقاد از این اقدام ملل متحد گفته است: "ملل متحد باید اطلاعات معتبر از ناتو و حکومت افغانستان در مورد موقعیت، درجهٔ شدت و دوام عملیات ضد شورشگری بزرگ به دست آورد. این کار برای تدوین یک برنامه ریزی جهت پاسخگویی مناسب به نیازهای مردم کمک می کند".

به گزارش دویچه وله، ویل حاج ابراهیم، رییس ادارهٔ هماهنگ سازی امور بشری ملل متحد در افغانستان گفته است: ملل متحد کاملاً از جنوب افغانستان بیرون نشده است، بلکه برای فعالیت های بشردوستانه، اولویت قایل شده است.

کمیتهٔ بین المللی صلیب سرخ که از طریق چندین ساختار صحی محلی به آسیب دیده گان جنگ کمک می کند، گفته است که عملیاتش را در ولایت قندهار توسعه داده است.

بیجان فریدریک فرنودی، سخنگوی صلیب سرخ، در کابل گفته است: "کمیتهٔ بین المللی صلیب سرخ در تماس دایمی با مقام های افغانستان به شمول قندهار بوده و آماده است، عرضهٔ کمک های بشری اش را در رابطه به نیازهایی که در آنجا به وجود می آیند، انطباق دهد".

دست از انتقادهای بی‌پرده بردارید

سارا معصومی

درست چهار روز پس از آنکه بارک اوباما رییس جمهور ایالات متحده چند ساعتی را در افغانستان گذراند، همتای افغان او حامد کرزی در سخنانی تند و تیز ادعا کرد که دخالت‌های بیگانه گان انتخابات ریاست جمهوری گذشته در افغانستان را مخدوش کرده است. کرزی با این اظهارات نه تنها اعتبار خود را به عنوان رییس جمهوری مشروع زیر سوال برد، بلکه میزان موفقیت فعالیت سربازان خارجی در وطنش را نیز تحت تاثیر قرار داد .

تندروی کرزی در این اظهارات بر هیچ کس پوشیده نیست. سخنان او ناعادلانه بود و به نفع کسانی بود که اصرار دارند، افغان‌ها با حضور امریکاییان و بیگانه گان در کشورهای خود کنار نمی‌آیند.همزمان اظهار نظرهای کرزی آیینهٔ تمام نمای استراتیژی اشتباه امریکا در برابر افغانستان هم است.

تاریخ نشان داده است که برخورد منفی با رییس جمهور افغانستان، همواره این چنین برخوردهایی را به دنبال دارد. کابل و واشنگتن شرکایی برای برقراری آرامش و بازگشت ثبات به افغانستان هستند. هر دو طرف باید بدانند که نقد یکدیگر در ملا عام، اصلی‌ترین چیزی است که باید از آن حذر کنند. به نظر می‌رسد که اظهار نظرهای مشاور امنیت ملی بارک اوباما، جیمز جونز در جمع خبرنگاران خشم کرزی را برانگیخت. جونز در این اظهار نظرها تاکید کرده بود که اوباما کرزی را برای مبارزه با فساد تحت فشار قرار خواهد داد و البته ادعا کرده بود که از نوزدهم نومبر تاکنون که کرزی به عنوان رییس جمهور سوگند یاد کرده، هیچ دستاورد چشمگیری نداشته است. اظهارات جونز چندان هم بی‌پایه و اساس نیست.

در شرایطی که هر روز بر تعداد سربازان امریکایی حاضر در افغانستان افزوده می‌شود و نیروهای ناتو هم در حال پاکسازی مناطق اصلی جنوبی از طالبان هستند، اما نخبگان در حاکمیت علاقهٔ چندانی به خشکاندن ریشه‌های فساد و دست برداشتن از خودکامه‌گی در سیاست ندارند. اصلی‌ترین دلیل انتقادها از حامد کرزی، زیاده‌خواهی‌های برادر او احمد ولی کرزی است که در قندهار برای خود حکومتی به راه انداخته است. پارتی‌بازی‌های او در حقیقت ادامهٔ مسیر را برای نیروهای ایتلافی حاضر در افغانستان سخت کرده و البته بر میزان محبوبیت طالبان در میان افغان‌ها هم می‌افزاید.

در یک سال گذشته از جو بایدن معاون رییس جمهور امریکا تا دیگر مقام‌های این کشور، همه گان کرزی را در ملاعام به باد انتقاد گرفته‌اند.

البته شاید اظهار نظرهای موجود در خصوص ناکارآمدی کرزی درست باشد، اما به هر حال اظهارات جیمز جونز در ملاعام هم نوعی از خودخواهی و رفتاری آقا منشانه بود.

اما چرا نباید و نمی‌توان از کرزی در ملاعام انتقاد کرد. نخست آنکه حامد کرزی انتخاب خود امریکاییان است. پس از فروپاشی حکومت طالبان در سال ۲۰۰۱ میلادی، جامعهٔ جهانی با محوریت ایالات متحده هر آنچه را که داشت، به کار گرفت، تا کرزی را بر مسند قدرت بنشاند. نگاه وسیع او به تقسیم قدرت در حقیقت بهترین ابزار در خدمت امریکا برای جلب نظر موافق رهبران قبایل و کنار ارتش مرکزی قرار دادن مخالفان بود. از سال ۲۰۰۱ تاکنون اوضاع در افغانستان تغییر کرده، اما کرزی همان کرزی باقی مانده است. با این‌وجود، برخی استراتیژی‌های او در باب مصالحه با طالبان، با رویکرد امریکا برای به دست آوردن دل میانه‌روان طالبان مطابقت دارد.

ایالات متحده بی‌شک اگر بخواهد می‌تواند، سوژه‌های بسیاری برای انتقاد از کرزی بیابد، اما این قبیل گفتمان‌ها باید با احترام همراه باشد و با توجه به این اصل که ۵۰ درصد از افغان‌ها باز هم او را به عنوان رییس جمهور خود انتخاب کردند.

خزان گذشته بود که جان کری رییس کمیتهٔ روابط خارجی سنا در دیدار با کرزی در پرتنش‌ترین روزهای پس از برگزاری انتخابات، او را به برگزاری دور دوم انتخابات برای جلب مشروعیت و مقبولیت ترغیب کرد. هر چند دور دوم با کناره‌گیری عبدالله عبدالله برگزار نشد، اما همان‌گونه که کری پیش‌بینی می‌کرد، این حرکت توانست، بر حجم مقبولیت کرزی بیفزاید. همزمان برخورد منطقی و همکارگونهٔ جنرال استنلی مک‌کریستال با حامد کرزی توانست، در تامین امنیت نسبی در افغانستان کمک شایانی بکند. حضور هیلری کلنتن وزیر امور خارجهٔ ایالات متحده در دومین مراسم تحلیف حامد کرزی نشان داد که می‌توان با توسل به دیپلوماسی به فرآیند کاری بهتری رسید. متن جزییات دیدار میان کرزی و اوباما در کابل منتشر نشده‌است، اما به نظر می‌رسد که بارک در این دیدار لحنی دوستانه‌تر اتخاذ کرده است. اگر بخواهیم منصف باشیم شاید جونز نمی‌داند که چگونه سخنان او می‌تواند، موجی از واکنش‌های منفی را در افغانستان به بار آورده و رابطه میان دو کشور را برای چندمین‌بار متلاطم کند. باید بدانیم که امریکا در افغانستان در حال جنگ است. رهبران این کشور باید دست از آزمون و خطا در فاصله زمانی هر چند ماه یک‌بار بردارند. امریکا زمانی برای هدر دادن ندارد.

رییس جمهور متواری قرغیزستان خواستار مذاکره با رهبران مخالف خود شد

قربان بیک باقی یف، رییس جمهور قرغیزستان که از شامگاه چهارشنبه گذشته در اختفا به سر می برد، در یک تماس تلفنی با بی بی سی اعلام برکناری دولت خود از سوی رهبران احزاب مخالف را غیر قابل قبول خواند و با تاکید بر اینکه همچنان رییس جمهور قانونی است، از مخالفان دعوت کرد تا برای حل بحران سیاسی کنونی با او مذاکره کنند.

وی در عین حال تایید کرد که اختیارات خود در اداره نهادهای امنیتی و انتظامی را از دست داده و امکانات به اجرا گذاشتن دستورهای خود را ندارد.

باقی یف محل اقامت کنونی خود را فاش نکرد اما گفت که در محلی در جنوب قرغیزستان به سر می برد.

با نشر مصاحبهٔ رییس جمهور برکنار شده قرغیزستان، تمیر سارویف، معاون صدراعظم دولت انتقالی - که خود را دولت اعتماد ملی می خواند - در گفتگویی با بی بی سی، مذاکره با باقی یف را "نا محتمل" توصیف کرد و افزود که به زودی تحقیقات درباره تیراندازی منجر به قتل تعدادی از مردم در تظاهرات آغاز خواهد شد.

برخی از مخالفان دولت قرغیزستان تاکید داشته اند که باقی یف باید به دلیل اقداماتی که در دوره ریاست جمهوری خود صورت داده و به خصوص به خاطر خشونت ماموران در رویارویی با تظاهرات اخیر، محاکمه و به شدت مجازات شود.

درتظاهرات ضد دولتی روز چهارشنبه که با مداخله نیروهای امنیتی به خشونت کشیده شد منجر به کشته شدن دست کم هفتاد نفر انجامید.

اکثر کشته شده گان از تظاهرکننده گانی بودند که در درگیری با نیروهای امنیتی، به ضرب گلوله از پای در آمدند اما شماری از ماموران دولتی نیز به دست تظاهرکننده گان کشته شدند.

دولت انتقالی قرغیزستان روز جمعه ۹ اپریل را روز عزاداری ملی اعلام کرد و به همین مناسبت، مراسمی به یادبود قربانیان حوادث اخیر در یکی از میدان های بیشکک برگزار شد.

بازگشت آرامش داخلی؛ روابط خارجی:

در پی اشغال ساختمان های عمده دولتی توسط تظاهرکننده گان ماموران پولیس اکثر خیابان های پایتخت را ترک کردند که در نتیجه آن، افرادی به صورت جمعی به ساختمان های دولتی حمله و اموال داخل آنها را غارت کردند.

اشغال مراکز عمده دولتی.به سقوط ص۳

اراده ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) فغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشراتی افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیري
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
گزارشگر: امان الله "ایمان" ۰۷۷۸۸۷۷۷۳۵
دیزاین: نبي "پیاوړی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.
ایمیل: erada.daily@yahoo.com

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mujib Rahman Amiri
Designer: Nabi "Paiwarry"
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com